پو هاندزیار

# د یاد ګار په پښنوکې

ژیړ پاڼرېژ مې د بهار په پښنو کې رژي
توره شپه مې د سهار په پښنو کې رژي

تورې دربلې د نانځړو د ما ښامو مې
د رڼو سپېدو سپېدار په پښنو کې رژي

دا له برم د پښتني مينې وربل مې
سنبل ځنې د ګلزار په پښنو کې رژي

د رنجکانو پر ځای کاڼي د اسمان مې
د پېغلو تو د سينګار په پښنو کې رژي

ګرد دښنه  مې نزرمات ته د ښايست به
لکه سپانده د انګار په پښنوکې رژي

تول د جنګ، جنا يت، جهل اسمانځک به
د ننګ پت وياړلي ښار په پښوکې رژي

بلهاري به مې د مينې کړې تلپاتې
که مې ژوند اوس د ناتار په پښنو کې رژي

نه چې خاورې شي يو ځای راسره ګورکې
ارمانونه مې د دار په پښنو کې رژي

په نمانځنه کې د تلين هر پسرلی به،
سره غاټول مې د ياد ګار په پښنو کې رژي !
د مې لومړی۲۰۰٦

www.ayenda.org